قرآن شریف

هر آینه خدا لعنت کرده است کافران را و آماده ساخته است براي ایشان آتش جاویدان آنجا همیشه نه یابند هیچ دوستي و نه یاري دهنده روزي که گردانیده شود روي ایشان در آتش گویند اي کاش ما هر آینه فرمان مي بردیم خدا را و فرمان مي بردیم پیغمبر را «سوره احزاب»

جریده

لواء التوحید

حدیث شریف

کسیکه در انجام عمل نیک رضا و خوشنودي خداوند را به ناخوشنودي مردم ترجیح بدهد خداوند تعالي ضمانت او را از شر مردم میکند و کسیکه خوشنودي مردم را در ناخوشنودي خداوند میخواهد خداوند عهده دار دفع شر مردم از وي نمیشود .

«رواه ترمذي»

سال سوم نشراتي شماره هشتم دوشنبه ۳۰ جدي ۱۳۷۰ هـ ش مطابق ۱۵ رجب المرجب ۱٤۱۲هـ ق مطابق ۲۰ جنوري ۱۹۹۲ میلادي

د افغانستان نامتو عالم پیاوړي مجاهد قوماندان مولوي ارسلان «رحمان» د لواء التوحید د جریدي سره په یوه ځانګړي مرکه کي وویل :

ایران زمونږ په کورنیو چاروکي سخته لاس وهنه کوي تر څو چه خپل انقلاب افغانستان ته صادر کړي

PROPERTY OF ACKU

عکس البنیان

محترم مولویصاحب ارسلان «رحماني» دپکتیا ولایت د ارګون ولسوالي د خالق داد بابا نومي کلي اوسیدونکی وروسته له دي چه تر ۱۷ کالو پوري یي خپل دیني تعلیمات د افغانستان د جیدو علماؤ تر څارني لاندي سر ته ورسول نو بیا یي سمدلاسه د خداي ورکړي استعداد څخه د افغانستان د نني نسل د روزني لپا ره شپه او ورځ یوه کړه او پنځلس کاله یي د تدریس مبارکه دنده په غاړه واخیسته چي بن هم د جهاد په ډګر کي ستر ستر مسؤلینونه د هغه د روزل شوي شاګردانو په اوږه دي او یو زیات شمیر یي د افغانستان په لرغوني تاریخ کي د میړاني نبني پریښي او حبله یي د شهادت خلعت اغوستي ابدي ژوندیي غوره کړي دي ، مولوي صاحب «رحماني» د اوسني مروجه علومو سره سره د تفسیر ، حدیث ، فقه ، اصول فقه ، نحو ، صرف معاني او بلاغت په علومو کي د سیمي د یوه ممتاز عالم په نامه پیژندل کیږي د ا هر څه سوي خوانه خو هغه د میړاني، تواضع او حلم یو ځانګړي مثال دي . «غزنیوال»

لواء : محترم مولوي صاحب څومره وخت کیږي چه تاسو تشریف راوړي او که مهرباني وکړي هلته د اوسني وضع په هکله څه معلومات راکړي .

ځواب : زه شل ورځي کیږي چه راغلي یم هلته د پکتیا په ولایت کي مجاهدینو په ګردیز کي برق د دښمنانو اوي او عسکري مواضع تر خپلو بریدونو لاندي نیولي او دا حمله له څلور اړخونو څخه جاري ده چه دښمن یي له سخته ګړاونو سره مخامخ کړي مجاهدینوته الحمد لله ټول ضروري مواد رسیدلي او د ژمي د یخني د دفع لپاره مو هم ډیر څه تیار کړي اوس هم که د مجاهدینو اکمالات لازم وګنل شي هیڅ خنډ نشته خو دښمن

پاتي په «٤» مخ

در نتیجه یك تهاجم مجاهدین قهرمان ولایت کابل ولسوالي قره باغ بالاي پوسته هاي فرقه چهل میدان هوایي بر علاوه غنایم مختلف النوع ۲٦ نفر عساکر و صاحب منصبان حکومت مزدور را اسیر کردند

۱۳ جنوري طبق یك ګزارش که از ولایت کابل ولسوالي قره باغ به اداره جریده مواصلت ورزیده گفته شده که مجاهدین قهرمان عملیات موفقانه را بالاي پوسته هاي فرقه چهل میدان هوایي و قرار گاه کشف قوماندانی امنیت سرك پنج قلعه انجام داده که در نتیجه آن دو عراده تانگ با «۲۰۰» فیر مرمي آن ۳ میل ګرینوف با «۱٤۰» صندوق

بقیه در صفحه «٤»

به اثر بمباردمان وحشیانه هواپیما هاي اسرائیلي دوازده فلسطیني شهید و بیست و پنج تن دیگر مجروح گردیدند

۱۲ .جنوري لبنان رویتر» طبق یك خبر روزنامه نواي وقت از لبنان حاکیست که هوا پیما هاي اسرائیلي دفاتر مجاهدین و یك کمپ مهاجرین فلسطیني که به طرف جنوب بیروت موقعیت دارد را هدف بمباردمان وحشیانه خویش قرار داده که در نتیجه آن دوازده

بقیه در صفحه «٤»

بعد از تعین ناظمیت در خرونو حلقات محصلین لواء التوحید افتتاح گردید

بخش تنویر و تثقیف اتحادیه محصلین لواء التوحید به اداره جریده خبر میدهد که بعد از تشکیل ناظمیت محصلین در خرونو کمب نمبر «۱» بگزیني برادر غلام محمد بحیث ناظم برادر عبدالرحمن بحیث معاون برادر محمد عارف بحیث مسول ارتباط و هم چنین هر یك از برادران گل احمد ، میرزا گل و بریالي به صفت مسؤلین حلقات تعین گردیده که بعد از اشغال وظایف محوله رسماً کار خویش را آغاز نمودند

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

د ظاهر شاه راتګ یاد مجاهدینو د کورني اختلافاتو ثمره

د لویدیځو هیوادونو د تبلیغاتي چترتر سیوري لاندي مخلوع پاچا یو ځل بیا دواکمني لپاره سونډك را اوچت کړي لویدیځ طواغیت په خپل دي ناوړه پلان کي غواړي چه د افغانستان د مجاهد ولس میړانه او د شپاړلس لکو شهیدانو په وینو لیکل شوي تاریخ چه هره کرښه یي د دي باتور ملت د سرښندنو عکاسي کوي خداي مکړه د ابد لپاره د راتلونکي نسل او نړي والو له سترګو څخه د ظاهر شاه د بیا واکمني په ذریعه پټ او پناه کړي تر څو چه بیا په سړه سینه د جهاد توري او د مجاهد نوم چه دي مجاهد

«پاتي په دوهم مخ کي»

د لواء التوحید تر اشراف لاندي د اتحاد اسلامي د عالي لیسي زده کونکي ذهني مسابقي ته د مجاهد لیسي د زده کونکو دله حاضریدو له امله بري من وپیژندل شول

د پنج شنبي په شپه چه د جدي د میاشتي له ۲۵ نیټي سر سمون خوري د لواء توحید د محصلینو د تنویر او تثقیف برخي لخوا د اتحاد اسلامي او د مجاهد عالي لیسو تر منځ د دواړو لیسو د محترمو مدیر صاحبانو له توافق څخه وروسته د ذهني ازمویني مسابقه ترتیب شوي وه د غونډي ویان ورور محمد زمان زاهدي د مسابقي د ممیزینو لخواد پریکړي د اعلان لپاره ورور روح الله بابکرخیل ته بلنه ورکړه هغه وویل !

چه نوموړي غونډي ته د مجاهد عالي لیسي زده کوونکي نه

پاتي په «٤» مخ

طي یك عملیات موفقانه مجاهدین قهرمان ولایت هرات مقدار زیاد اسلحه و مهمات حکومت ملحد را به غنیمت گرفتند

۱۹ جدي : به گذارش اخبار واصله از ولایت هرات مجاهدین قهرمان آنولایت جهت کم کردن فشار ملحدین بالاي ولسوالي زنده جان به همکاري مجاهدین ولسوالي گل دان طي یك عملیات موفقانه مولوي پور قومندان عمومي ملیشه سرحدي با ۲۰۰ فامیل که در خدمت رژیم منحوس کابل قرار داشتند

بقیه در صفحه «٤»

اسلام ، جهاد او مجاهد هغه دري کلمي دي چه اوس د امریکا په سترګو کي لکه د نښتر د ازغي په څیر رغیږي

«الجنیر محمد افضل «احمدزي»

جریده لواء التوحید

ارشاد نشراتي اتحادیه محصلین و مجاهدین لواء التوحید

مؤسس : انجنیر محمد افضل «احمدزئی»

مدیر مسؤل : محمد داد «غزنیوال»

سال تاسیس : ۱۳۶۸

د ظاهر شاه راتګ یا...

ملت ټولي نړي ته د عمل په میدان کي ورو پیژانده یو ځل بیا محوه کړي دا ځکه چه اوس اسلام، جهاد او مجاهد هغه دري کلمي دي چه د غربي هیوادونو او په خاصه توګه د نړي خوړونکي امریکا په سترګو کي لکه د نشترد ازغي په ځبر رغړي کله چه امریکا او د هغي پلویانو د دي ځلانده تو ر په وړاندي د کمونیزم د کیّان ماتي ولیده او په دي پوه شول چه وروستي غیشي به د هم دوي په ځیګر لګیږي د همدي ټکي په اساس خو دا ملحدین اسلام ، جهاد او مجاهد د خپلو شو مو اهدافو او مرامونو د تحقق په لار کي یواځني خنډ ګڼي او د دي لپاره چه د خپل وحشت او بربریت لپاره د آسیا په زړه کي د خپلي سالاري لار هوار ه کړي نو شپه او ورځ د خپلو هغو مخلصو اجیرانو او مزدورانو د بیا واکمني لپاره هلي ځلي کوي کوم چي د امپریالیزم په ټوګ لوي شوي تر څو چه هغه مجرمین او خاینین د خپلو پوچو ګټو د ساتلو لپاره د ټولو بین المللي قوانینو په خلاف د افغانستان په مؤمن مجاهد ملت وتپي د جرمني د بن کنفرانس د ملګرو ملتو د انتر ادیالوګ تر عنوان لاندي نیغ په نیغه د افغانستان د مؤمن او مجاهد ملت دا را دي په خلاف هغه پروګرام دي چه له پخوا څخه یي توقع کیده تر څو په افغانستان کي د اسلامي حکومت مخه ونیسي خو د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس دیّن" د جنایتي کانفرنس ګډون کونکي ښه پیژني چه هغه څوک او د چا مالګه یي څکلي او په ریښتیا څوک چه یو بڅري ایمان هم په زړه کي لري د اسلام او وطن له غدارانو سره به په یوه چوکي او میز کیناستلوته چمتو نشي ایمانداره مجاهد ملت دهغو جنایت کارانو د محاکمي په تکل کي دي نه چه د افغانستان د سر نوشت په هکله د هغوي سلا او مصلحت ته غاړه کیږدي موږ د خپلي جریدي له لیاري د جرمني پخواني صدر اعظم څخه چا چه د ټولي اسلامي دښمني نړي په مرسته او په ډیر افتخار د دي کرغیړن کانفرانس مسؤلیت په غاړه اخیستي دا پوښتنه کوؤ چه ستاسي ملك د پخواني ختیځ آلمان تښتیدلي واکمن "هونیکر" له روسیي څخه د محاکمي لپاره راغواړي نو د دي واك چادرکړي چه د شپاړس لکه شهیدانو د قاتلینو او د هغوي له تالي څټو ځان پلوورونکو سره یو ځاي د افغانستان سیاسي سر نوشت وټاکي ؟

نواي د انساني شرافت او حریت تش په نوم غوښتونکو نړي والو آیا دا انصاف ګڼي ؟ بیا هم غواړي چه د خپلو دروغو کوکارو په مرسته خپل ځانونه د بشریت د آزادي استاذي وګڼي په ریښتیا چه دا ټول حوادث د مجاهدینو د کورني او خپل منځي اختلافاتو ثمره ده او دښمنانو ته یي دا چانس ورکړي چه زموږ د شهیدانو د وینو د ثمري سپکاوي وکړي .

موږ یو ځل بیا خپلو مجاهد و مشرانو څخه دا غوښتنه کوؤ چي د افغانستان او د اسلامي امت د مصلحت لپاره خپل منځي شخړي او اختلافات د جهاد د تاریخ په دي حساسه مرحله کي یوي خواته کړي او هغه هدف ته په ګډه ځانونه ورسوي چه هغه د افغانستان په پاکه خاوره د اسلامي حکومت قایمیدل او د اسلامي حکومت تر سیوري لاندي اسلامي ژوند کول دي .

دوره حاکمیت ظاهر شاه و تهاجم روس بر افغانستان

تحریر محمد افضل عتار

بعد از آنکه در سال ۱۳۱۲ نادرشاه توسط عبدالخالق با ضرب گلوله از پا در امد پسر آن ظاهر زمام امور را بدست گرفت . که این شهزاده نوجوان و بي تجربه بدون در نظر داشت عقاید و فرهنگ ملت مسلمان افغانستان دست به یك سلسله اقدامات خودسرانه زد که بالاخره منجر به ویراني کشور عزیز ما افغانستان گردید ، خصوصاً بعد از سفر سال ۱۹۵۵ خروسچف به کابل و تحویل مبلغ یکصد ملیون دالر امریکایي به حکومت افغانستان که میتوانیم آنرا به عنوان آغاز مداخلات و تهاجم مستقیم روس ها بالاي عقاید فرهنگ ملت افغانستان تلقي نمود از آنروز به بعد قرار داد هاي پي در پي میان حکومت کابل و شوروي به امضاء رسید که در هر یك از قرار داد ها امتیازات بیشتر به روس ها داده شد

هم چنان ورود د ه ها و صد ها مشاور فني و نظامي به افغانستان آغاز گردید . ارسال فلم هاي هنري و پخش پروگرام هاي تلویزوني و رادیوي جهت گمراه ساختن جوانان به فعالیت آغاز نموده کتب و نشرات روسي به زبان هاي فارسي بطور رایگان در دسترس جوانان قرار گرفت ، پروگرام هاي درسي سیستم روسي در پوهنتون کابل و سایر مکاتب به حواست روس ها عیار گردید ، البته بعد از هر قرار داد جهت فریب دادن اذهان عا مه پیمان هاي به اصطلاح همزیستي مسالمت آمیز و عدم مداخله در امو ر یکدیگر میان حکومات افغانستان و شوروي به امضاء میرسید . سالانه یك تعداد زیادي از جوانان و اطفال جهت فرا گرفتن تیوري مارکسیتي و آموختن تعلیمات نظامي به شوروي اعزام میگردید که بعداً همان افسران تحصیلکرده روسي در بست هاي مهم نظامي و سیاسي به کار گماشته میشد و توسط آنها پخش تیوري مارکسیتي در میان افسران نظامي روز تا روز افزایش یافت ، البته هدف اصلي روس ها از تطبیق چنین پلان ها تنها استفاده از منابع طبیعي افغانستان نبود بلکه از همه اولتر از بین بردن عقاید و فرهنگ ملت افغانستان براي آنها مطرح بود .

وضع بدینمنوال ادامه داشت اما از طرف شاه و ه ، ،انش هیچ نوع عکس العمل در مقابل پلان هاي طویل المدت روس ها صورت نگر فت تا آنکه نهضت اسلامي افغانستان مبارزات شانرا علیه نقشه ها و دسا یس استعمار گران شرق آغاز نمودند که بلا فاصله به اشاره روس ها توسط ظاهر شاه حملات بالاي آنها صورت گرفت ، مگر با وجود این همه حملات اعضاي جوان نهضت اماده گي خویش را جهت هر نوع قرباني اعلان نمودند تا اینکه کار بجاي رسید که روس ها سرکوبي آنها را از استعداد حکومت ظاهر خارج دانسته و در سدد آن شدند تا یك تغیر کلي در رهبري دستگاه حاکمه بوجوه آرند ، که بر اینکار یگانه شخص ایکه قبلاً از امتحان موفقاً بدر آمده بود محمد داود بود ، که توسط یك کودتاي ساختي و نمایشي قدرت را از ظاهر به داود منتقل نمود و شاهي را به جمهوري مبدل ساختند . بعد از بقدرت رسیدن محمد داود در ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ قدرت نظامي و سیاسي روس ها بیشتر گردید و توانستند چند تن از کمونیست هاي معلوم الحال را در کابینه محمد داود شامل سازند و توسط آنها یکبار دیگر حملات شانرا بالاي نهضت اسلامي آغاز نمودند که در نتیجه چند تن از رهبران ورزیده نهضت را زنداني نموده و بعداً به اعدام محکوم ساختند .

خلاصه اینکه جنایات و غارت گري هاي دوره ظاهر شاهي و داود شاهي از نظر هیچ افغان با احساس بدور نیست و اگر خواسته باشیم هر یك آنرا به رشته تحریر در آوریم بحث مابه درازا خواهد کشید اما جاي تاسف دراینجا است که با وجود این همه جنایات و خیانت آن بعضي به اصطلاح از رهبران جهادي و استعمار گران شرق وغرب بدون در نظر داشت قرباني ها و قهرماني هاي ملت افغانستان دست به دست هم داده میخواهند یك بار دیگر دوره فرطوت خاندان شاهي را بالاي ملت رنجدیدو افغانستان تحمیل نمایند ، البته با چنین کاري نه تنها مشکل افغانستان رفع نمیگردد بلکه اعاده صلح و امنیت در اینکشور به خطر جدي مواجه میشود زیرا ملت مسلمان و متدین افغانستان جهاد و مبارزات شانرا بخاطر محو کامل کمونیزم از افغانستان و تاسیس یك حکومت واقعاً اسلامي اغاز نموده اند تا زمانیکه هدف نهایي شان بر آورده نشود به جهاد و مبارزه شان علیه هر حکومت ایکه از جانب استعمار گران بمیان آید ادامه خواهند داد .

اینکه استعمار گران شرق وغرب بر سر مسئله ظاهرشاه خاین به توافق رسیده اند یگانه وجه مشترك میان آنها جلوگیري از تاسیس یك حکومت اسلامي در این کشور میباشد و پا فشاري روس ها بالاي این مسئله از چند جهت میباشد .

۱- بقاي جان ، آبرو و عزت کمونیست هاي تربیه شده کرملین .

۲- حفظ روابط دوستانه حکومات شوروي و افغانستان مانند سابق .

۳- اعاده اعتبار قرار داد هاي عقده شد میان دولتین که از زمان شاه تا حال به امضاء رسیده

از سفر آصف نواز چنین بر میاید که پاکستان نیز جهت دو باره خوب شدن روابط اش با امریکا از مسئله بقدرت رسانیدن ظاهر حمایت مینماید البته در صورت تحقق این مسئله لکه شدید در روابط مجاهدین و حکومت پاکستان وارد خواهد شده و ملت افغانستان این جفا آنها را هرگز فراموش نخواهند کرد .

راغلي لیکونه

له اضاخیل بالا اسلامي دارالعلوم څخه ورور نعمت الله ! ستاسي له مینې ډك لیك را ورسید کوم شعر چه تاسو رالیږلي که اجازه راکړي راتلونکي شماري کي به یي درته نشر کړو خو په دي شرط چه موږ به څه ناڅه تصرف پکي کوؤ ستاسو شعر چه ما ولوست یقیناً چه ډیر ښه شعر دي او نور هم کوشش وکړي د هیش د پاره خپل شعرونه موږ ته رالیږي چه نشر یي کړو او تاسو د یوي جلسي راپور هم رالیږلي هیله ده چه راپور ښه په مفصله توګه راولیږي حتماً به یي انشاء الله نشر کړو او تاسو چه زموږ په اړوند کوم نیك نظر ښکاره کړي له پاك خداي څخه ورته دهغه اجر غواړم خداي مو برياليي لره .

— . — . — . — . —

مضمون ارسالي برادر عبدالحافظ

بزرگترین خطري که متوجه مسلمانان است

اگر دقت نمایيم مدار عمل استوار به محور عقیده بوده هر فرد انسان نظریه عقیده که دارد عمل نموده و آنرا خیر و بهتر میداند و خود را در صورت اختلاف با دیگران معقول و حق بجانب فکر میکند در حالیکه اگر بامیزان حق و حقیقت سنجیده شود چنین نخواهد بود شما در اجتماع بشري بنگرید هر گروه و جماعت ایدیالوژي خود را مورد قبول و سبب خوش بختي و ترقي مادي و معنوي میداند این یك حقیقت روشن است سپس عقیده که اصل اساسي و بنیادي در زندگي اجتماعي بحساب است صلاح فساد آن نتایج بسزایي فردي و گروهي را دربر دارد لازم است تا

عقیده را به میزان قرآن و مقیاس شریعت سنجید نه با ترازوي شیطان و هواي نفس اماره ، و از طرف دیگر وساوس شیطاني و خواهشات نفساني و شرور آن نیز متوجه عقیده و تواي فکري انسان بوده تا او را از راه رشد و هدایت منحرف و به طبقه هلاکت باندازد پس درك کردن حقیقت عقیده و عمل کار ساده و آسان نیست و انسان نه مي تواند به اساس غفلت و خود خواهي نجات حاصل کرده با سعادت ابدي نائیل آید باید از علمیت عالمان و بصیرت بینایان و دانش دانشمندان استفاده کرد توأم با خوف و رجاء از خداي بزرگوارپیروزي صادقانه از طریق آنحضرت «ص» که ضامن سعادت دو جهان است زندگي کرد

— . — . — . — . —

د اتحاد د لیسي څخه ورور بدیع الزمان هاشمي وروسته له سلامونو څخه لیکي ماستاسو جریدي ته د نشر لپاره د اسلامي تراني تر عنوان الاندي یو شعر در ولیږو هیله ده چه راته نشر یي کړي .

پاتي په «۳» مخ

زوړ ښکاري نوي جال

تحریر م ، غ ابو عبدالله

د جدي په دیارلسمه دا خبر خپور شو چه د پاکستان لوي درستیز محترم آصف نواز جنجوعه ایتالیا ته آس په زین کړي چه بیا لکه دي بریښنا په شان متصل دا څرګنده شوه چه هلته یې د ظاهر شاه له زوم عبدالولي سره د زړه خبرې وسپخولې دا خبري چه څه وخت په اسلام مینو مجاهدوغوږوته ورسیدي نو هغوي د نواز صاحب دي نوازش څخه د خپګان اعلان وکړیبا سمدلاسه د پاکستان د بهرنیو چارو د وزارت ویان د آصف نو از صاحب او ظاهر شاه تر منځ د لیدلو تر دیدو کړ خو دومره یې وویل چه سردار ولي خان سره په لیدو مشرف ؟ شوي او دا راز ناسته پاسته نوي کارندي او دالړي لا د پخوا څخه روانه وه که هر څه بیا مونږ ته په دي اړوند د تحقیق ځاي نشو پاتي نو بیا هم مونږ بده ونه ګڼله چه وخبرو آیا نواز صاحب خپله دامبارک ؟ اقدام وکړ او که نه چا وهڅاوُ او ددي کتني تر شاکوم مقصد پروت دي او آیا د ظاهر شاه په راتګ کي به مسؤلیت ټول هغه ته راجع وي او که نه زمونږ لخوا به هم چا بریتونه ورته تاو کړي وي نو د لاندي دلایلو په مرسته کیداي شي چه تر یوي اندازي حقیقت ته نیږدي شو .

۱- لوستونکي به خبر وي چه دُ جرمني د پخواني صدر اعظم لخوا جرمني کي په ۲۷ د جنوري د افغانستان د قضیې د حل لپاره یوه غونډه رابلل شوي چه په هغې کي د مجاهدینو سره سره نجیب حکومت ته ظاهر شاه خان او د اروپا عیاشانو ته هم د ګډون دعوت ورکړ شوي د خبري سر چینو په قول ویل کیږي چه ځیني سازش منونکو تش په نامه مجاهدو ډلګیو دا دعوت په سر ستر ګو قبول کړي نو مبصرین دا وایي چه نواز صاحب کیداي شي د نوموړو ډلګیو لخوا یې د ظاهر شاه له نماینده سره نظریات تبادله کړي وي تر څو چه بیا په غونډه کي ظاهر شاه ته څه ستونزه نه وي .

۲- دا هم کیداي شي چه د پاکستان پخواني لوي درستیز محترم اسلم بیګ څو ځو واري زمونږ جهادي مشران وغونښتل او یوځاي یې کینول او له هغوي څخه یې دا وغونښتل چه یو ګډ تصمیم ونیسي که هر څورهبرانو هغه مایوسه کړ خو هغه بیا هم د صبر لمن ټینګه ونیوله . خو د اوسني لوي درستیز د صبرکاسه د هغه په پرتله ډیره تنګه ده نو د افغانستان د یو نامتو قومندان مولوي ارسلان «رحماني» په قول آصف نواز صاحب وغونښتل چه رهبرانو ته د مارسرورښکاره کړي او دي وېروي چه که یو کیږي یو شي که نه ظاهر به درپرېږدم .

۳- دا دوهم کال دي چه امریکا په پاکستان خپللي ټولي هغه بلاعوضه مرستي پارچاو کړي چه پاکستان د هغو په مرسته خپل ازلي سیال هندوستان سره یې په اقتصادي میدان کي ډغري وهلي چه د مرستو د پارچاو اصلي عوامل له افغانستان څخه دروسي قوځونو وتل او د افغانستان د مقدس جهاد له برکته پاکستان کي ځیني د پام وړ تحولات دي او په تیره بیا د خلیج د جګړي په دوران کي داسلم بیګ خطر ناکه وینا چه هغه په امریکا سخته بده ولګیده په راز راز بهانو یې د خپلو مرستو د پارچاو موده نو ره هم اوږده کړه که په ظاهر ، مونږه ټول د پاکستان د اوسني وزیر اعظم نواز شریف څخه د خو د کفایتي نعرې او شعارونه اورو خو په حقیقت کي پاکستان له سخته اقتصادي بحران سره لاس او ګریوان دي چه واضح مثال یې د کوپراتیف د حسابانو تالا ترغه کیدل دي دلته دا هم د ذکر وړ خبره ده چه د امریکا په اشاره ټول غربي بلاك له پاکستان سره خپلي اړیکي سړي کړي چه واضح مثال یې دري کاله د مخه د فرانسي لخوا پاکستان سره د اتومي بټي کومه ژمنه کړي ره د هغې منسوخول دي او هغوي یې وروسته له دي چه افغانستان کي یو سو چه اسلامي حکومت منځ ته راشي دیو ستر اسلامي قوت د جوړیدو څخه په ویره کي اچولي ځکه خو یې سرله اوسه خپل پام د هندوستان خواته اړولي او دا ول ځلي لپاره یې هندوستان ته د هغه کمپیوټر توکي چه په اتومي وسلو کي استعمالیږي صادري کړي او د موثقومعلوماتو ترمخه د امریکا او اسرائیلو پیلوټان د هند پاك دسرحد په منځو کي هر وخت سترګي دي ته غړوي چه څه وخت به هغوي ته په پاکستان د حملي اجازت ورکړل شي لکه څنګه چه کشمیري مجاهدینو شپږ میاشتي د مخه یو اسرائیلي پیلوټ ژوندي، هم نیولي او پورتني حقایق یې تصدیق کړي ؤ .

نو که د پاکستان ځیني کړاونو او مجبوریتونو او دلته د مجاهدینو په منځ کي اختلاقونو او بد بختیو ته او د آصف نواز سفر په داسي حال کي چه مطلب یې امریکا ؤ او په ایتالیا کي یې جاز کیناست اومتصل له پاکستان څخه د امریکا د یو لوړ رتبه مامور سفر ته د یوه دریم په سترګه وګورو نو کیداي شي چه پاکستان مجبور شوي وي تر څو د ظاهر شاه د راتګ په مسئله کي یې د امریکا ځیني فشارونو ته ملا ټیټه کړي وي —

٤- بل خواته سیاسي مبصرین د پخواني شوروي څخه آزادشوي جمهوریتونو سره د ایران اوسني اړیکي هم ترغور لاندي نیسي او داراز څرګندوي چه پاکستان هم په خپل وار له نوموړو جمهوریتونو سره د ایران په پرتله د سیاسي اړیکو لارلټوي او نواز صاحب ځکه تلیوار کوي چه مسئله په هر قیمت وي چه حل شي دا ځکه چه پاکستان د افغانستان څخه پرته لارنلري او دي ګنګو سو نور هم سخت لیواله کړي جه ویل شوي ایران له نوموړو جمهوریتونو څخه د پخواني شوروي وسلي په ډیره ارزانه بیه تر لاسه کړي نو پاکستان ویریږي چه میدان به ټول ایران وځني . که پورتني حقایق یوي خوا ته کړو او بواځي د پاکستاني واکمنو او د پاکستان د انصارو ورونو هغه کړاونه چه دوي دا تیر څلوارلس کاله له مونږ سره وګالل او یادي ته وګورو چه د مهاجرینو له موجودیت څخه د پاکستاني ورونو معیشت او پانګه ورځ په ورځ متاثره کیږي نو دي فیصلي ته به ورسیږو چه دا یوازي د آصف نواز صاحب مجبور تیا نه بلکه د ټول ملك او خلکو مجبور تیا ده چه نو ر له مونږ څخه ځانونه سپك کړي .

او که ددي انصار او باتور قوم روميي ثبات ، صبر ، میلمه پالني او اسلامي وروروَلي ته ځیر شو چه دوي دا ټول کړاوُنه د دي لپاره و ګالل چه افغانستان کي یو سو چه اسلامي حکومت منځ ته راشي نو زمونږ طمع یو څه زیاته شي او ځان ته دا تسلي ورکوُ چه انشاء الله د وي به مونږ په نیمه لار اوچول بیابان کي یواځي نه پریږدي .

خو سره له دي چه مونږ په ظاهري اسبابو کي د دوي مرستو او خواخوږیو ته حیاتي اړتیا وي لرو او په خپل بري کي دوي ځان سره شریك ګڼو خو څه وخت د دي هر څه مقابله د خداي د رضا سره راشي نو مونږ که پاکستان وي که هر څوك په ډیر ډاډ دا و رته کړ نو چه د خپل حریت او د ضمیر بیعې ته غاړه نشو ټیټولاي او نه به په دي راضي شو چه دوي مونږ له باران څخه ناوي ته کینوي دا ځکه که دا قوم د ظاهر شاه په شان د هر خاین غل او غدوي په مقابل کي چوپه خوله پاتي کیداي نو حالات به نن بل ډول ول او په تاریخ کي به د افغانستان له نامه سره د مسلمان نوم نه ؤ . لکه څنګه چه ظاهر شاه مخکي هم هغه خاین ؤ چه دا ول ځل لپاره یې په ملګرو ملتو کي د خپل ظالم حکومت په دور کي د پاکستان خلاف رأیه ورکړي وه انشاء الله چه پاکستان به نه‌یې هیر کړي او اوس به هم د هغه خاین په سترګه ورته ګوري د افغانستان مجاهد ملت به د زاړه ښکاري په نوي جال غلط نشي انشاء الله .

شاذلي به تعقیب راه ګورباچوف

تحریر ولي محمد طوفان

بعد از استعفیٰ غیر مترقبه شاذلي بن جدید رئیس جمهور اسبق الجزایر احمد الغزالي صدر اعظم آن کشور اعلان نمود که پارلمان مرکزي ملغا ګردیده و عنان قدرت را کونسل با صلاحیت کشور که وي نیز عضو آن میباشد بدست ګرفته بعد از جلسات فوق العاده کمیسون مذکور دور دوم انتخابات عمومي آنکشو ر که توقع میرفت بتاریخ شانزدهم ماه جنوري سال جاري میلادي دایر ګردد به بهانه حفظ مصْونیت و امنیت ملي کشور فسخ ګردید دور اول انتخابات الجزایر که چند روز پیش منعقد ګردیده بود مسلمانان در کسب آراء با اکثریت قاطع موْفق شده بودند و حکومت قبلي شاذلي نیز اعتراف نمود که مسلمین الجزایر موفق ګردیدند که هشتاد فیصد رأي را کسب نمایند بعد از اعلان نتایج دشمنان دین مبین اسلام که در رأس آن ممالك غربي قرار دارند به یاري روْساي بعضي کشور هاي عربي که در رأس آن لیبیا . تونس ، سوریه و مراکش شا مل هستند به طریق بسیار بیشرمانه غرض جلوګیري حکومت اسلامي در الجزایر به ساحه عمل پیاده شدند اینها که بعمل آمدن حکومت اسلامي را در راه استعمار خویش مانع بزرګ حس میکردند سخت در بیم بودند دیري نګزشت که نسبت فشار هاي شان براي اینکه یك بهانه را براي خود بجوید شاذلي ازسمت خویش استعفی داد و یکمرتبه باز در شریان هاي اعداء اسلام خون دمید .

الجزایر امروزي اګر چه محصول صد ها هزار جان نثاران اسلامي که در مقابل استثمار فرانسه از زندګي خویش در ګذشته بود اما باز هم ثمره آن را از مدت سي سال میشود که یك حکومت سوسیالیستي بغارت ګرفته لیکن مثلیکه ګورباچوف قرباني ظلم تجاوز. جبر ، استعمار و استثمار هفتاد ساله شوروي سابق ګردید و از برکت جهاد برحق مجاهدین سر بکف افغانستان روح استقلال در جان جمهوري هاي اسلامي که چندین سال زیر شکنجه کمونیزم قرار داشتند دمیده . شاذلي و دار و دسته باقیمانده او نیز از انتقام مسلمانان به امان نخواهد ماند اګر چه امروز سلطه را یکمرتبه باز حکمفرمایان ظالم مستبد و جابر ان کشور بدست ګرفتند بعید نیست که در برابر سیلاب خون مسلمانان بیدار الجزایر که دین اسلام را منبع حریت و سر مشق خویش ګردانیده بپا ایستاده شود اګر امر وز باشد یا فردا انشاء الله که مستبدین الجزایر بدست همین مجاهدین راه حق به محاکمه کشانیده و به جزاي اعمال ننګین خویش خواهد رسیدند انشاء الله .

راغلي ...

ګران ورور هاشمي صاحب !
سلامونو مو وعلیکم او دا دي ستا د خوښي سره سم ستاسو شعر نشر ته سپارو

مړنړ چي راوتلو دا موځان باندي منلي وَو : داسي مـــو ګڼلي وُو
یا به شو غازیان یا شهیدان دا مووېلي وُو : داسي مـــو ګڼلي وُو
مرګ موشهادت دي په‌ژوندون‌باندي‌غـــازیان‌یومونږ:شــــکر موُمنان‌یومونږ
دا زمونږ هدف دي دي هدف پسي راغلي وُو : داسي مـو ګڼلي وُو
دغه زمونږ لار ده پدي لار چي څه پیښیږي : مونږ ته ډیر خوښیږي
ستونزو مشکلاتو واړه مونږه ازمویلي وُو : داسي مـو ګڼـلي وُو
ماتمونږه‌روسان‌کړل‌د عقــــیدي‌په‌لوي‌قـــوت‌باندي:د پاك‌الله‌نصـــرت‌باندي
هسي خو پخوا لا انګریزان هم مونږ شړلي وُو : داسي موګڼلي وُو
مینه د وطن مونږ یو جز هم د ایمان ګڼو : دا د خداي احسـان ګڼو
زمونږه پیغمبرّ هم د وطن پسي ژړلي وُو : داسـي مو ګڼلـي وُو
خیر که مهاجر شو دغه فخر د خپل ځان ګڼو : تبـــه د ایمان ګڼو
وایي «هاشمي » پیغمبران په هجرت تللي وُو :داسي مو ګڼلي وُو

* * *

د افغانستان نامتو...

خپل اکمالات نشي کولاي مونږته د يوي باخبره منبع څخه دا خبره معلومه شوي چه ملحدين د سون او خو راکي توکو د نشتوالي سره لاس او ګريوان دي او ګمان نه کيږي چه د دوي دا مشکل حل شي دا ځکه چه مجاهدينو د هغوي ټولي تدارکي لاري ترخپلو بريدونو لاندي راوستي او په داسي حال کي دښمن خپل اکمالات هيڅکله نشي کولاي انشاء الله .

لواء : مونږ خبر شوو چه مجاهدينو د يوي شوري په تر څ کي په ګرديز باندي د يوه نوي عمومي تهاجم پروګرام تخطيط کړي که رښتيا وي نو دا حمله به څه وخت شروع کيږي ؟

ځواب : لکه څنګه چه ما تاسو ته وويل په ګرديز باندي زمونږ عملياتونه جاري دي زمونږ مقصد دا دي چه اول ځيني مهمي نقطي تر خپلو بريد ونو لاندي راولو تر څو چه دښمن باندي پوه شو چه اوس زمونږ د پاتي بريدونو قدرت نلري نو بيا به خپله عمومي حمله شروع کړو تر څو چه پرته له زياتو تلفاتو دښمن ګير کړو خو تر اوسه پوري مونږ د خپل عمومي حملي په اړوند معين وخت ندي ټاکلي البته ابتدايي حملي شروع شوي دي .

لواء : څه وخت چه د پخواني شوروي آخري سلګي وي او د افغانستان په هکله راز راز تصميمونه نيول کيدل تاسو هم په خپل وار سر تاسري شوري راوبلله ورروسته د اخبارونو له لاري خبر شو چه دا غونډه يوه مقدماتي غونډه وه او مجلس به بيا دايريږي نو که مهرباني وکړي په دي هکله څه معلومات راکړي .

ځواب : د دي سوال په ځواب کي براځي دومره وايم چه هغه مقدماتي غونډه وه او په لنډ وخت کي په سرتاسري شوري بوځل بيا راوبلله شي چه تفصيلاتو څخه به ورروسته بيا خبر شي .

لواء : ځيني خلك دا ګوت نيونه کوي چه په نوموړي سرتاسري شوري کي ټولو مهمو قومانداناتو ته ونډه نده ورکړه شوي ستاسو ځواب څه دي ؟

ځواب : زه غواړم دا واضحه کړم چه سرتاسري شوري کوم تنظيم ندي او نه د دي شوري اهداف او مسير له خلکو پټ دي دا ځکه چه د دي شوري بواځني مقصد د مجاهدينو د خپل منځي اختلافاتو حل و فصل د تدارکي لارو ځارنه د مجاهدينو تر منځ د استراتيژي په ډګر کي ملګرتيا او د هم آهنګي فضا رامنځ ته کيدل او دا راز د مجاهدينو په هکله د سياسي اوضاع تحليل دي لکه څنګه چه په دي ميدان کي تر يوه ځايه پوري مونږ موفقيت هم تر لاسه کړي دي د مثال په توګه مونږ د تدارکي لارو امنيت تأمين کړي د مجاهدينو تر منځ د سولي فضا په قايمولو کي موتر خپله وسه کوششونه کړي د مجاهدينو په منځ کي استراتيژي بووالي راغلي چه واضح مثال يې د خوست او ګرديز عملياتونه ؤ څه وخت چه دا عملياتونه پيل شول مجاهدينو په سمت شمال کي هم د قيصار او خواجه غار په ولسواليو بريالي بريدونه وکړل بل خواته مجاهدينو په جلال آباد کي د دښمن په مرکزونو بريد وکړ او جنوب غرب کي مجاهدينو د قندهار په ولايت کي هم د ملحد حکومت قوا وي تر خپلو حملو لاندي راوستلي دا وجه وه چه د خوست د جګړي په وخت کي دښمن ته دا موقع ورنکړه شو تر څو چه خپل ټول قوت په يوه ځاي راټول کړي خو ستاسي داصلي پوښتني په ځواب کي دا وايم چه رښتيا هم مونږ شوري ته ټول قوماندانان ندي رابللي دا ځکه چه په دي شوري کي مونږ هغه قوماندانا نو ته بلنه ورکړي چه هغه په سيمه کي نفوذ درلود لو سره سره يوڅه شهرت هم ولري چه خلك يې وپيژني او بيا د هغه پريکړه د منلو وړ وي که قوماندانان سيمي ايز قدرت لري خو شهرت نلري او يا شهرت لري خو قدرت نلري نو ځکه هغه شوري ته ندي رابلل شوي .

لواء : تاسو ته به معلومه وي چه د ايران حکومت د هرا له لياري د افغانستان مرکزي ولاياتو کي د هغه ځاي اهل تشيع ډلو ته او همدا شان خپله نيغ په نيغه يې اوس د کابل د هوايي ډګر څخه په استفادي کابل حکومت ته هم مرستي رسولي آيا تاسو د ايران دا راز عمل د افغانستان په داخلي چارو کي لاسه وهنه نه بولي ؟

ځواب : تر کومه ځايه چه د مرستو ورکولو تعلق دي نو زه خپله د دي مخالف نه يم چه ايران د اهل تشيع ته مرستي نه ورکوي دا ځکه چه که اهل تسنن د مرستي اخستلو حق لري نو اهل تشيع هم د مرستي اخستلو حق لري خو بواځي دومره وايم چه ايران د افغانستان د فضايي حريم څخه په ناوړه توګه استفاده کوي خو بيا هم تر ټولو زيات د تشويش وړ دا ده چه ايران له بلي خوا د افغانستان په کورنيو چارو کي سخته لاس وهنه کوي او غواړي چه خپل انقلاب افغانستان ته صادرکړي نن سبا چه دا «۸» تنظيمونه په ايران کي را زرغون شول په دي کي مستقيماً د ايران لاس دي او په رښتيا هم چه د ايران دي راز لاس وهنو په هکله مونږ ته ډير تشويش پيدا شوي .

محترم مولويصاحب زمونږ د يوه بل سوال په ځواب کي وويل د خوا خوږو ملکونو له خوا په مونږ د مرستو پارچاو مونږ د جهادد ضعيفولو مرادف ګڼو دا ځکه روسان به هيڅ کله په خپلو لاس پوځو مرستي تبدي نکړي بواځي د دنيا د مغالطي لپاره به د آمو د سين لار بدله او دهند له لياري به خپلي مرستي تر پخوا نوري هم ګړندي کړي خو له دي سر ه سره مونږ په خپل خداي توکل کړي او د ځيني خواخوږو ملکونو کړه وړه به زمونږ په جهاد هيڅ اغيزه ونکړي الحمد لله اوس خو څه ناڅه وسله لروکه خداي مکړه بالکل تش لاسي هم شو د جهاد په ډګر کي به هيڅکله پرتياونه منو ان شاء اله خو زمونږ د تشويش بواځيني عامل د مجاهدينو تر منځ د نفاق غتيه بدبختي ده چه د هغه په نتيجه کي د دنيا خلك نفرت کولو ته چمتو کيږي . مولويصاحب د دي مشکل د حل په اړوند وويل لپاره د دي چه واك په رښتيا هم د افغانستان مجاهدو ته په لاس ورشي بايد يوه پراخه شوري چه د اهل حل او عقد څخه جوړه شوي وي را وبلله شي زما مطلب له پراخي شوري څخه دا دي چه په هغي کي علماء قوماندانان د قوم نيك نيك مشران او پوهان ګډون ولري ،

مولوي صاحب د پاکستان د لوي درستيز ورروستي سفر په هکله وويل :

د ا ټولي خبري اتري بي معني دي هيڅ اثر نلري پاکستان بواځي دا غواړي چه مونږ ويروي لپاره د دي چه مونږ يو شو او د هغه په خاطر مونږ ته د مارسر راښکاره کوي خو انشاء الله چه په مونږ به هيڅوك هم د خپلي خوښي حکومت تحميل نکړاي شي .

لواء : لوستونکو ته څه پيغام لري ؟

ځواب : زما پيغام ټولو مجاهديو او مهاجرو وروڼو ته دا دي چه اوسني شرايط ښه په دقت سره تر څيړني لاندي ونيسي او خپل هرګام په ډير احتياط او تدبر پورته کړي او په دي ورروستي پړاو کي صبر او ثبات له لاسه ورنکړي او خپل جهاد دي لکه د پخوا په شان جاري وساتي انشاء الله چه فتح او بري ډير نيږدي دي .

به اثر بمباردمان ...

فلسطيني بشمول زنان و کودکان شهيد و ۲۵ نفر ديگر مجروح گرديدند يك نطاق رسمي حکومت غاصب اسرائيل در رابطه به اين بمباردمان گفت که هوا پيما هاي اسرائيل بعد از تدمير مراکز تروريستي فلسطيني صحيح و سالم به مراکز خويش باز گشتند

در نتيجه يك تهاجم ...

مرمي آن يك ميل راکت وسط با «۲٤۰» فير مرمي آن يك پايه زيکاويك «۸۰» ميل کلاشنکوف با «٤۰» صندوق مرمي آن «۱۰۰» دانه دريشي ، يکپايه جنراتور ، ۱٦ رأس قاطر را به غنيمت گرفته و «۲۰» تن عساکر بشمول «٦» نفر صاحب منصب حکومتمزدور نجيب را اسير نمودند راپور مي افزايد که باثر انداخت سلاحهاي خفيفه و ثقيله مجاهدين «۲» عراده زرهپوش و يکعراده موتر طعمه حريق و «۵۰» نفر صاحب منصب حکومت ملحد هلاك گرديدند . که در زمينه قرباني مجاهدين معلومات کافي بدست مانرسيده .

د لواء التوحيد ...

راغلل نو د ممېز هيئت لخوا مسابقه د اتحاد اسلامي عالي ليسي په ګټه وشمارل شوه او وروسته بيا د اتحاد ليسي د ثانوي زده کوونکي په دوه برخو وويشل شول چه يوي خواته هر يو ورور عنايت الله ورور حبيب الله ورور محمد اسماعيل او بلي خوا ته هر يو ورور محمد شفيق ، ورور ګلاب خان ، ورور شکرالله تر منځ مسابقه پيل شوه وروسته لدي چه له دواړو اړخو څخه لس لس پوښتني وشوي ورور محمد شفيق ، ګلاب خان ، او شکرالله دا مسابقه وګټله او دا شان د جوايزو مستحق وټاکل شول د نوموړي مسابقي د ننداري لپاره د مختلفو ليسو څخه سر بيره د حماية الاسلام او عمرو بن حزم «رض» د مدرسو او د دعوت او جهاد پوهنتون او د اتحاد عالي ليسي په سل ګونو شاګردانو ګډون کړي و غونډي ته د اتحاد عالي ليسي محترم مديرصاحب غلام حضرت خان د علم او دعوت په هکله خپله ارزښتناکه وينا واوروله دا غونډه د شپي په «۷» بجو پيل او د شپي پر لسو بجو د ورور عبدالعزيز مجاهد يار په دعا سره پاي ته ورسيده .

آيا خبر داريد

۱- مؤرخ مشهور عالم جغرافيه ، طبيب حاذق پروفيسور علم فلکيات و رياضي ابوريحان احمد البيروني اولين شخصيت مسلمان بود که در سال ۹۷۳ - ۱۰۵۱ محوطه زمين معلوم نموده ويه اثبات رسانيد که سرعت روشني از صدا بيشتر است .

۲- در يك قطره آب اگر بنگريم صد بلين اتوم را مشاهده خواهيم کرد .

۳- قيمت ترين عنصر دنيا بنام کيل فوريئم ياد ميگردد که در سال ۱۹۵۰م آن را شخص امريکايي بنام کي سي بورگ کشف نمود .

٤- کوچکترين مصنفه دنيا جين سن نام دارد که در سن پنجنيم سالگي کتاب ضخيم تحت نام کتاب «حکايات براي کودکان» را تصنيف نمود .

طي يك عمليات ...

را اسير ۲۵۰ ميل کلاشنکوف ٦ پايه ګرينوف يك پايه زيکويك يك عراده موتر نظامي دشمن را به غنيمت گرفتند از طرف ديگر طبق يك خبر که به منابع خبري جريده لواء التوحيد موصول گرديده حاکيست که مجاهدين سر بکف ولايت هرات در يك عمليات جداگانه کندك عسکري نادرجو را فتح نمودند که در نتيجه ۷۵ ميل کلاشنکوف يك ميل راکت يك پايه هاوان دو پايه ګرينوف دو پايه زيکويك را به غنيمت گرفته و به تعداد ۸۰ تن عساکر به شمول ۲ صاحب منصب حکومت مزدور را به هلاکت رسانيدند .

د نوم بدلول

ورور ډاکتر احمدشاه د مياجان ځوي دکابل ولايت د سروبي ولسوالي فعلاً د هريپور په کمپ کي د لواء التوحيد د محصلينو د خالد ابن وليد «رض» ښځ خوزي مسؤل غوارږي خپل نوم په نجيب الله فوايي بدل کړي

ورور باز مير د عبدالله جان ځوي د کابل ولايت د سروبي ولسوالي فعلاً په هريپور کي د النصر ليسي د اتم ټولګي زده کوونکي غواړي خپل نوم په ګلاجان بدل کړي .

ورور خانټول د زدراڼ خان ځوي د کابل ولايت د بګراميو ولسوالي اوسيدونکي د هجرت کلي د حماية الاسلام والجهاد د مدرسي د ۱۲ ټولګي زده کوونکي غواړي خپل نوم په عبدالجبار بدل کړي .

ورور ګل خائب د سر بلند ځوي د لغمان ولايت د اتحاد عالي ليسي زده کوونکي غواړي خپل نوم په سراج الحق بدل کړي

د ټولو ورونو او دوستانو څخه هيله کيږي چه نوموړي ورونه پدي نومونو وپيژني

خوانندگان گرامی

جريده لواء التوحيد منتظر دريافت نامه هاي تان که حاوي مضامين ، اشعار ، داستان هاي اسلامي ، انتقادات و پيشنهادات شما ميباشد و به اشتراك اراء خود جريده را مزين سازيد.

آدرس ما :

کمپ جلوزي چراټ روډ هجرت کلي دفتر فرهنګي لواي توحيد U.P.O ۷٦۷ يونيورسټي پشاور- پاکستان